بسم الله الرحمن الرحيم

# موسيقي او نوي ليکوالان

مؤلف مولوي عبدالهادي حماد

بسم الله الرحمن الرحيم

## مقدمه

الحمدلله الذی اعدا لسامعین الغنآء عذاب مهین . کما قال الله تعالی : ومن الناس من یشتری لهوالحدیث لیضل عن سبیل الله بغیرعلم ویتخذها هزوا اولئك لهم عذاب مهین O ( سورة لقمان ۶ ) قال : عبدالله بن مسعودفی تفسیرلهوالحدیث : والله هوالغناء . والصلوة والسلام علی من وعد بوجوب المسخ والقذف والخسف لظاهرین الغناء کما قاله : فی هذه الامة خسف ومسخ وقذف واذا سئل منه وقت الوقوع فقال : اذاظهرت القینات والمعازف وشربت الخمور . (رواه ترمذی ) محمد واله واصحابه الذین اتفقوا باتباعه وعلی جمیع من تابعهم باحسان الی یوم الدین .

وبعـــد :

درنولوستونکو : دڅښتن تعالی (جل جلاله ) لورینه ده چې دیوه داسی دین په ملنه یې نازولی یوچې ددنیاوی ښکلی ژوندون دټکاو اودبیاژوندون دتل پاتی هوسایۍ لپاره داسی اصول پکښی نغښتی دی چې دپیل څخه ترپایه پوری یوه نقطه نیمګړتیا نه ده پکښی بریښیدلی .

هوکی : دایو واقعیت دی ځکه که وهغه شیانو ته ځیرسو چې دعملیت په ډګرکې مولیدلی دی او هیڅ سترګې پری پوټولای نسو نو یقیناً مودزبات تربریده رسولای سی . دبیلګې په ډول : اسلام ښودلی ده چې موسیقی حرامه ده ،داچې ولی وروسته به ثابته سی ، اواسلام پرانسانانو هیڅ داسی شی حرام نه ګرځوی [illegible] دنیاوی ګټی [illegible] پکښی . لکه څرنګه چې په پیل کې اسلام [illegible] ) پیړی [illegible] پیړی [illegible] اوږدو کې رنځ پوهانو (طبیبانو) اواروا پوهانو [illegible] موسیقی [illegible] داچې اسلام هیڅ یوداسی شی پرانسانانو حرام نه ګرځوی چې په هغه کې دانسان روحی یاجسمی ګټه وی ، خوله نیکه مرغه حق هیڅ وخت نه پوټیږی دیویشتمی پیړی اروا پوهانو چې انسان د ( سیکالوجی ) لمخی څیړلی دی جوته کړی یې ده چې بالعکس (سرلټ) موسیقی دځینو روانی اودماغی ناروغیو لامل ده ځکه په طبعی ډول انسان چې په نورمال حالت کې موسیقی واوری خامخا په روحی تحرك راځی او هغه څه یې په خیال کې راځی چې دد ه ورسره مینه وی کله چې دخیال ( حس ) دمینه لرونکی شی درك وکړی په پایله کې یې دخوند پرځای یوډول تزلزل اونارامتیا منځته راځی چې همدغه ددوام څخه وروسته یوډول نه رغیدونکی روانی ناروغی ده . دلازیاتو معلوماتو لپاره لویدیځی (غربی ) اوارو پایی ورځپانی دنوو اروا پوهانو نظریات مطالعه کړی چې د ( انترنیټ ) د ویب پاڼوله لاری په اسانه ترګوتو کیدلای سی .

که څوك پدې آند وی چې انسان څښتن تعالی ( جل جلاله ) داسی جوړکړی دی چې طبعا دموسیقی سره مینه لری اوخوند پری اخلی نوبیا یې ولی پری حرامه ګرځولی ده ؟ نوموړی آند به هغه وخت دویلو وړوی چې دلاندی دوو پوښتونو جواب یې ویلی وی لومړی داچې دااړینه نه ده چې انسان دهرشی غوښتنه کوله هغه شی باید حرام نسی ځکه انسان ډیروخت دداسی شیانو غوښتنه کوی چې په ښکاره دانسان تاوان وی لکه غلاکول ، زنا کول ، شراب چیښل اوداسی نور داټول هغه شیان دی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې په ښکاره یې ټول بشریت ته بدې پایلې معلومې دې نو هر شې چې انسان غواړې هغه درواوالی لارنده . دویم داچې پورتنې پوښتونکی انسانی مینه دموسیقی سره نوی څېړلی ،

دایو څرګند حقیقت دی چې دانسان نفس دموسیقی داوریدلو سره مینه لری مګر دومری پکارده چې وښودل سی چې کوم نفس دموسیقی سره مینه لری ؟ ځکه نفس دری حالته لری .

الف : نفس اماره : نوموړی نفس دهغه نفس څخه عبارت دی چې انسان بدو اوناسمو کارونو ته هڅوی اودهغه بدو کارو سره مینه لری چې دالله ( جل جلاله ) مباعدت پکښی نغښتی وی لکه چې الله ( جل جلاله ) فرمایی :

ان النفس لامارة باالسوء . ( یوسف ۵۳ )

ژباړه : بیشکه نفس زیات امرکونکی دی په بدو سره .

ب : نفس لوامه : نوموړی نفس دهغه نفس څخه عبارت دی چې دعلوی عالم ولوری ته هڅه کوی اودناوړه کارونو څخه تیښته کوی که کومه تیروتنه ځنی وسی دځان لپاره یې شرم ګڼی اوځان ملامت بولی ، لکه چې الله (ج) فرمایی :

ولااقسم بالنفس اللوامة ( قیامة ۲ )

ژباړه : قسم کوم په نفس ملامت کونکی باندی .

ج : نفس مطمئنة : نوموړی نفس دهغه نفس څخه عبارت دی چې دعلوی عالم ولوری ته میل کوی اودڅښتن تعالی(ج) پر پیروی اواطاعت باندی خوند اخلی او په کښی ورته پوره ارامتیا اوتسلی وی لکه چې الله (ج) فرمایې :

یٰا یتهاالنفس المطمئنه ارجعی الی ربك راضیة مرضیة .( الفجر ۲۷ ــ ۲۸ )

ژباړه : ای نفس ارام نیونکی ! (زما په ذکر ) راوګرځه ( ددنیا نه ) وخپل رب ته په داسی حال کې چې راضی یې (ته دالله (ج) څخه اوالله (ج) سته څخه ) راضی وی .

پورتنی دری حالتونه که څوك دزړه ومخ ته کښیږدی نو ښکاره خبره ده چې انسان دنفس اماره په حالت کې دموسیقی سره مینه لری ځکه نفس اماره تل داسی غوښتنی کوی چې دانسان لپاره په ریښتنیی ډول تاوان وی لکه غلا ، زنا اوداسی نور ، هغه وخت به پورتنی سوال پرځای وای چې مطمئنه نفس الله(ج) داسی جوړکړی وای چې دموسیقی سره یې مینه لرلای اوبیا باندی حرامه سوی وای ددې خبری دثبوت لپاره چې مطمئنه نفس دموسیقی سره مینه نه لری دټولو انبیاؤ (ص) ، اصحابو (رض) ، اولیاؤ(رح) اوصلحاؤ شتون دی چې یوه هم دموسیقی سره مینه نه ده ښودلی که څوك دسهروردیې طریقی تګ لاره دبیلګی په توګه ښیې نوویلای سم چې کومه موسیقی چې په کوم تعریف موږ پیژنو هغه دغه موسیقی نه ده بلکی هغه یوکیف اوپه ښکلی اواز مذهبی شعرویل ووچې دځینو اٰلاتو په مټ راځی ځکه نوموړی طریقې رباب ، شپیلی ، ډول اوداسی نور استثناء کړی دی . اوس راځو معاصره موسیقی ته لومړی باید معاصره موسیقی وپیژنو په اوسنی وخت کې چې موسیقی اوریدل کیږی درباب ، ډول اوشپیلی په ملنه غزل ویل دی دغه موسیقی هغه موسیقی ده چې په نارواالی کې یې هیڅا نه شك کړی دی اونه یې اختلاف کړی اوپه تیرو پیریو کې چې ځینو علماؤ کوم اختلاف کړی دی اویایې ځینو درواوالی پریکړه کړی ده هغه یواځی غناء ( په ښکلی اواز شعرویل دی ) اویاهغه موسیقی ده چې مستی نه راولی لکه دساعت زنګ یا دکوردخبرولو زنګ ( ګینتی ) او اوسنی موسیقی چې اوریدل کیږی چې په ریښتیانی ډول خلګ فحشاؤ اوبدو کارو ته هڅوی په نارواوالی کې یې هیڅ شك نسته اونه تیروپیریو څخه چا اختلاف پکښی کړی دی ځکه امام قرطبی لیکی : کومه تګ لاره چې ځینو صوفیانو په اوسنی وخت پیداکړی ده چې دشعرو په ملنه باجی ، شپیلی اوداسی نوروهی دغه کار حرام دی .

قرطبی جلد ( ۴ ) صفحه ( ۵۴ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدبختانه ددغه نازك تارڅخه ځینی خلک بده استفاده کوی دفحشاؤ اوناوړه کارونو لاره پرانیزی ترڅو دعقیدوی پلوه ناتوانه خلک په بیره دفحشاؤ او ناراواوو کندو ته ورولویږی لکه دافغانی ټولنی یونوموتی پوه چې زما په اند یې په مغزو کې غرونه غرونه پوهه ښکاری اویو اثریې دموسیقی دجواز لپاره چاپ سوی دی خوزما په اند دځیرنی اوشننی وروسته دنوموړی عالم ویناوی دحنفی مذهب ترڅنګ دنورو مذهبونو سره هم برابری ندی ځکه کوم دلائل چې نوموړی دموسیقی دجواز لپاره تهیه کړی دی لومړی خوهغه ټول دلائل دښکلی اواز دجواز لپاره دی چې یوڅوك دشرعی اصولو سره برابر شعرپه ووایی اویا دزنګ لپاره دی دهغه موسیقی لپاره ندی چې مستی منځته راوړی لکه رباب ، شپیلی ، باجه اوداسی نور دویم داچې زموږ افغانی ټولنه په تغلیبی ډول یوه حنفی مذهبه ټولنه ده لیکوال یودلیل هم دحنفی مذهب له لوری ندی راوړی بلکی ټول دلائل یې دنورو مذهبونه اویا غیرمقلدینو راوړی دی چې دحنفی مذهب دنوموتوعلماؤ لخوا په ټینګه ردسوی دی اودسوالو لپاره یې قناعت بخشه جوابونه ورکړل سوی دی .

دیادونی وړده چې لیکوال دموسیقی دجواز دومری لاره پرانیستلی ده چې دافغانی ټولنی ټوله موسیقی یې رواکړی ده اُن تردی چې دښځواواز یې لاهم جائز کړی دی اوحال داچې کومه موسیقی چې اوس په افغانی ټولنه کی اوریدل کیږی یا په کیسټونو اوسیډیانوکې خرڅیږی ټوله دفحشاپرلوری خوځښت دی دغه موسیقی دټولو علماؤ په اتفاق حرامه ده اوهیڅ ثبوت درواوالی یې نسته که څه هم لیکوال یوځای ویوه چوکاټ اشاره کړی ده خو هغه یواځی دده خیالی انځور اوپریکړه ده په اوس وخت کې هیڅوك ددې جوګه ندی چې دیوه بډایه اسلام لپاره دی په یوه پریکړه کې چوکاټ وټکایی په ځانګړی توګه هغه څوك چې دڅلورو مذهبوپریکړه یې ترشاکړی وی اوخپله پریکړه تپی ځکه تفسیراحمدی لیکی دموسیقی درواوالی په اړه په یوه مذهب کې لارنسته

( تفسیراحمدی صفحه ۶۰۳) .

باالاخره یواځی اویواځی دخپل دینی مسؤلیت اودخپلی ټولنی دچوپړ په موخه اړسوم ترڅولیڅی راونغاړم اودقران ،حدیث ، تفسیر اودمذهب په رڼاکې وشنم چې موسیقی په څومری تینګو دلائلو حرامه ده اوپراوریدو ئی څومری په لوړه کچه بندیز دی اووښیم چې څوك دموسیقی درواوالی لاره لټوی څومري یې لاره چپه کړی اودټولنی دچوپړپرځای یې دټولنی سره څومری ظلم کړی دی که څه هم زه دناپوهی څخه په ملاسته یم خودمذهب د ځینومخورو علماؤ دکتابونو څخه به ځینی دلائل رااخلم که څه هم زه دحنفی مذهب مقلد یم اوافغانی ټولنه هم په تغلیبی ډول سره حنفی مذهبه ده اوزموږ داعتماد لپاره یواځی دمذهب پریکړی بسنه کوی خوبیا به هم دایاتو اوحدیثو شریفو ترڅنګ د پاته درو ریښتینو مذاهبو نظریات راواخلم په ځانګړی ډول دهنددنیمی وچی سترعالم مفتی محمد شفیع صاحب لیکنه ( اسلام اورموسیقی) ترڅو په څرګند ډول معلوم سی چې دموسیقی حرام والی هغه حقیقت دی چې دڅلورمذهبونو په اتفاق منل سوی دی ، الله(ج) دی توفیق رانصیب کړی اوالله (ج) دی زما دغه کوچنی لیکنه دټولنی دوګړو داستفادی وړوګرځوی اوالله (ج) دی یې دقبولیت په لورینه ونازوی .امین یارب العالمین

والحمدلله رب العالمین والصلوة والسلام علی سیدالمرسلین محمد واله

اصحاب اجمعین O

العبدالافقر الی الله عبدالهادی ( حماد )

( ۸ ــ ۲ ــ ۱۳۸۶ هجری شمسی )

****

## ایادموسیقی درواوالی لپاره دهرچاقول ثبوت کیدای سی ؟ بلکی نسی کیدلای

(c) ketabton.com: The Digital Library

که وحقیقت ته ځیرسوحتما دی نتیجی ته رسیږو چي ښښتن تعالی (ج) لکه څرنګه چي یي په څرګندډول دانسانانو په بڼوکي یي توپیرپیداکړی دی همدا ډول یي په فکرو کي یي هم په دغه پیمانه توپیرپیداکړی دی یعنی یواړخ به یي داوی چي یوڅوك به دیوه شی سره مینه لری بل څوك به بیا دبل شی سره مینه لری چاته به سپیڅلی شی خوند ورکوی چاته به بیا یو کړغیړن شی خوند ورکوی چاته به داسی پریکړه خوند ورکوی چي دده دافکارو سره ورته والی ولری خوبل چاته به بیا معکوسه پریکړه خوند ورکوی اوداهم جوته ده چي ټولی پریکړی په قران اوحدیث کی په تفصیل ندی بیان سوی بلکی ځینی مسائلی په قران کي حل سوی دی ، دځینوتفصیل بیا په حدیث کي بیان سوی دی اوځینی اجماع الامت ته پاته سوی دی نوکومی مسائلی چي په قران اوحدیث کي تفصیلا نوی حل سوی دحل لپاره یي دوی لاری ستټه .

الف : یواځی دمذهب پرپریکړو اعتمادوسی اودمذهب پرڅیرنو اوشننو بادی بسنه وسی اودلائل ټوله دمذهبی منځ پانګی پرلوری پرېښودل سی .

ب : دامت محمدی(ص) دهرأندی او هرعالم خبره داعتمادوړوګڼل سی اووینایی دلیل لپاره دقبولیت وړوګڼل سی .

اوس نو که سالم فکرپورتنیو دوولارو ته ځیرسی اوتریوه بریده شننه پکښی وکړی اوفکری میشت غالی دخیرو اوپیرو څخه پاك کړی نو یقیناً به دي نتیجي ته ورسیږی چي یواځنی دخلاصون لاره دمذهب تقلید دی ځکه که دمذهب تقلید ونسی نوپه نړی کي په میلنونو داسی کسان سته چي دنظرښښتنان دی اوداهم جوته ده لکه چي وموویل تردیره حده پوری یي نظرونه یودبل سره توپیرلری نولازمی ده چي هرڅوك به دمسئلی دحل لپاره خپل نظرپه کاراچوی ټولی مسائلی به دخپل نظرمطابق حلوی اودقران اوحدیث تاویل به په خپله رایه دخپل نظر مطآبق برابروی په پایله کښی به اسلام په نړی کي په میلنونو ډوله سی اوحال داچي اسلام یودین دی حق یودی دامت محمدی (ص) داتفاق اواتحاد پرځای به بیلتون رامنځته سی اوداالله (ج) دامرڅخه به سرغړونه راسی چي په یووالی یي کړی دی مسلمانان به پرډلو ډلو وویشل سی حق به ترمنځ ورك سی دټولنی وګړی به سخت اختلاف سره مخ سی هرڅوك به دهغه چا قول رانقلوی چي دده خوښ وی . اوکه دمذهب تقلید وسی پورتنی ټول ربړونه اوستونزی به لمنځه تللی وی داسی نده چي دمذهب پریکړی نوپه باطله روانی دی او هرانسان اړدی چي خامخا به یي تقلیدکوی بلکی ټولی مسئلی دمذهب په رڼاکي د حق په غیړه کي حل سوی دی . بل لادا چي هرسړی ددي جوګه ندی چي دمذهب په څیردی څیرنه وکړی باالاخره ویلای سو چي دمذهب دتقلید پرته بله هیڅ دخلاصون لاره نسته اونه دهرچاقول دیوي موضوع دثبوت لپاره دلیل کیدای که څوك ورته کارکوی هغه په حقیقت کي دپورتنیو مشکلاتو دراوړلو اورته لمن وهی دمثال په ډول که دهغه لیکوال څیرنه راواخلو چي دموسیقی درواوالی لپاره یي کړی ده اوموسیقی یي روا بللی ده نوویلای سو چي څوك موسیقی ته درواوالی لاره لټوی اوحال داچي شاوخواد ( ۱۴ ) پیړیو په اوږدوکي دقران ، حدیث او( ۹۵ ) فیصده علماؤ لخوا یي دحرمت تثبیت سوی دی اوڅلورو حقو مذهبونو دقران اوحدیث په رڼاکي پری اتفاق دی نوموړی کس دپورتنیو دلائلو پرته دصوفیانو دیوي لړکی ډلی ویناوی اویا دداسی علماؤ ویناوی ددلیل په موخه رااخلی چي داصحابو کراموپه مخالفت تفسیرکوی اویادځینو علماؤنظررااخلی چي دهغه مطلب یوشی وی اودی بل څه ځنی ارا ده کوی ایا دغه کار په اسلامی ټولنه کي مخالفت اچول ندی ؟ ایادغه کاردمسلمه امت دډلو ویشلو لارپرانیستل ندی ؟ څوك چي دومری علمآء اوټول حق مذهبونه پریږدی اودلړکیو نظرته وده ورکوی اودټولی ټولنی په منځ کي یوه نوی اختلافی اورته لمن وهی ایادا دالله (ج) دلاندینی قول مخالفت ندی ؟ چي الله (ج) فرمایي :

واعتصموا بحبل الله جمیعا ولاتفرقو ا ( ال عمران ۱۰۳ )

ژباړه : منګولی ولګو ی په رسی دالله (ج) ( یعنی دالله (ج) په قران باندی ) ټوله، اوبی اتفاقی مه کوی .

اوڅوك چي پورتنی کارکوی ایا درسول (ص) دلاندینی قول مخالف ندی ؟ چي رسول (ص) فرمایی :

عن ابی هریرة رض قال سمعت رسول الله (ص) یقول ما نهیتکم عنه فاجتنبوه وما امرتکم فاتوا منه ماستطعتم فانما اهلك الذین من قبلکم کثرت مسائلهم واختلافهم علی انبیائهم . ( رواه البخاری )

ژباړه : دحضرت ابی هریرة رض څخه روایت دی چي فرمایي : درسول الله(ص) څخه می واوریدل چي ارشاد یي فرمایی : دکوم شی څخه چي می منعه کړی یاست ځان ځنی وژغوری اودکوم شی امر چي می درته کړی دی دخپل توان په پیمانه یی عملی کړی ( ځکه ) بیشکه هغه کسان چي له تاسو څخه مخکی تیرسوی دی ( له دی امله ) تباه اوهلاك سوی دی چي خپلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

زياتی مسائلی يي ( دانبياؤ څخه کولی يعنی تجسس يي کوی اوبی ځايه پوښتنی يي کولی ) اواختلاف يي په انبياؤ کي کوی .
څوك چي پورتنی کارترسره کوی يعنی موسيقی روابولی ايا دغه کس به داصحابوکرامو (رض) مخالف نوی ؟ دمثال په ډول
عبدالله بن مسعود (رض) او عبدالله بن عباس (رض) دلهوالحديث په تفسير کي چي په قران کي راغلی دی داسی فرمائی :

والله هوالغناء .

ژباړه : په الله (ج) قسم يادوم چي لهوالحديث سندری ويل دی .

يعنی ددوی په اند الله (ج) چي کوم عذاب دلهوالحديث په ايات کي ښودلی دی دسندری ويونکی لپاره دی . ښکاره خبره ده چي موسيقی حرامه سوه ځکه دموسيقی سره مل سندری تر هغه ډيری بدی دی چي يواځی وی . اوس نو يوڅوك چي نه صحابی دی اونه تابعی دی هغه وايي : چي لهوالحديث موسيقی نده مطلب دادی چي موسيقی حرامه نده که څه هم داصحابو (رض) مخالفت پکښی وی اوحال داچي څلور حق مذهبونه په دغه موضوع کي دپورتنی مفسرينو اصحابو داند سره هم نظره دی پدی ځای کي يودمخورو اصحابو تفسيردی اويو ديوه ورستی عالم تفسيردی چي داصحابو دمخالفت ترڅنګ يي دمذهبونو څخه هم پدغه موضوع کي لاره بدله کړی ده .که داصحابو(رض)پرتفسيرعمل وکړو موسيقی حرامه ثابتيږی اودمذهب څخه انحراف هم نه راځی اواحتياط هم پدي لاره کي دی . که دورستی عالم پرتفسيرروان سو موسيقی حلاله ثابتيږی خو دمذهب ترشاکول پکښی نغښتی دی .

درنو لوستونکوکه څوك داصحابو په مخالفت تفسيرکوی اودمذهبونو څخه لاره بدلوی ايا دغه تفسيردقبول وړدی ؟ که څوك پورتنی موثق تفسيرپريږدی يعنی داصحابواومذهبونوتقليد پريږدی دورستی عالم تفسيررانقلوی بيا ددغه تفسير دمخالفت په مټ موسيقی حلاله ثابتوی ايا دغه کار داصحابو (رض) پرمقدسو افکارو تيری ندی ؟ يوڅوك چي په يوه ژبه کتاب ليکی اودهغه ژبی ويونکی حنفی مذهبه وی ليکوال ددغه ژبی ويونکو ته ددوی دحق مذهب په خلاف موسيقی رواکوی ايا دغه کاردوی دمذهب څخه ليری کول ندی ؟ اودا پدي معنی ندی چي تاسو خپل مذهب پريږدی زماپروينا باندی باوروکړی ؟ يوڅوك چي دحنفی مذ هب ټولنی ته دنظآم الدين اولياء قول بي له کومی حوالی رانقلوی چي وايي : څوك چي دموسيقی په حرمت کي دامام ابوحنيفة (رح) قول ثبوت غواړی ولی به پردي قوم باندی دالله (ج) عذاب نه راځی . دغه قول رانقلول

دحنفی مذهب دبی ارزښتی تثبيت ندی ؟ اوحال داچي دغي ټولنی دخپل مذهب دساتنی لپاره وينی توی کړی دی اوپه دغه ټولنه کي په سلهاوزره علماء راغلی دی اوهغوټولو دوی ته دغه مذهب غوره بللی وی اوهيڅ عالم دموسيقی درواوالی لاره نده پرانيستلی ايا دغه کاردليکوال دخپل عزت لمنځه وړل ندی ؟ ځکه که دحنفی ټولنی يو بی تعليمه وګړی دنظام الدين اولياء پورتنی قول واوری ايا دغه کس به دنظام الدين اولياء لوړ مقام ته په الفاظو تاوان نه ورسوی ايا نقلونکی ته به بدونه وايي حال داچي حنفی مذهبه وګړی ټول پرخپل مذهب باندی ټينګ ولاړدی دنظام الدين اولياَء پورتنی قول رانقلول دنظام الدين اولياء عزت ته نقص رسول ندی په پورتنی ډول ؟

درنولوستونکو ! حق يوه داسی ملغره ده چي درنيا په مټ يي هرغوښتونکی ترخپله هدفه رسيدلای سی . په ښکاره توګه چي عام خلګ ښه په پوهيږی دحق موندلو لپاره يوه اسانه لاره داده : عموما ديوی خبری دڅيرلو اوسپينولو لپاره درايو اکثريت ته کتل کيږی په کوم لوری کي چي دشرعی دلايلو په ملنه درايو اکثريت وی په تغليبی ډول حق په هغه لوری کي وی انشاء الله وروسته به ثابته سی چي امت محمدی تقريبا ټوله پدي اند دی چي موسيقی حرامه ده کوم کس چي يي دجواز لاره لټوی ايا دغه کس به څومری حقيقت ته نژدی تاسو خپله قضاوت وکړی ؟ اوس راځو اصلی موضوع ته چي دموسيقی دحرمت څخه عبارت ده کوم ليکوال چي دموسيقی درواوالی لپاره هڅی کوی اودقرضاوی ويناوی ددليل لپاره رااخلی په حقيقت کي دحق څخه بيلتون دی ځکه که ليکوال لطفا خپله مطآلعه يواځی دقرضاوی پررساله باندی راچاپيره نکړی بلکی دفقهه شريفی په لوی علم کي معتمد کتابونه مطالعه کړی نودقرضاوی خبری به بيخی بی بنسټه ورته ښکاره سی دقرضاوی رساله هغه رساله ده چي دځينو حکومتونو لخوا يي دنه مشروعيت اورد له امله پرنفوذ بنديز لګيدلی دی ځکه ده هغه څه ته اجازه ورکړی ده چي قران ، حديث اودوی په رڼاکي مذهب حرام کړی دی چي دموسيقی څخه عبارت دی .کوم ليکوال چي موسيقی روابولی اوبيا يوه ليکنه دټولنی دچوپړ په موخه کوی نو که ليکوال ريښتيا دچوپړ په هيله وی نوده ته پکاره ده چي چوپړدهغی ټولنی دمذهب په رڼآ کي وکړی چي هغی ټولنی ( ۱۴ ) سوه کاله عمل باندی کړی دی لطفا دی دخپلی ټولنی سره ظلم نکوی اوخپله ټولنه دي دخپل حق مذهب څخه نه ليری کوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليكوال كه دمذهب پرته دموسيقى درواوالى لپاره قران او حديث ته لاس غځوى په قران اوحديثكى خو داسى څه نسته چي دموسيقى رواوالى په ثابت سى اوكه نورایاتونه رااخلى اودخپلى خوښى مطابق يې تاويل كوى نواياداهلى كتابو كارنه وو؟ ،كه يې دتفسيرباالراي داصولومطابق وكړى نولومړى خو نوموړى ليكوال مجتهد ندى اونه كيداى سى فرضا كه سى نودى دي دقران اوحديث تفسير دحزم اوقرضاوى دنظرلمخى نه راته كوى بلكى داصحابو دنظر مطابق دى يې راته وكړى ځكه هغه تردوى په څوچنده بهتردى اوكه دهغه اياتو په تفسير كي چي موسيقى حرامه ثابتوى دنورو علماؤ ويناوى دلائل واى ايا دابه دقبول وړوى ؟ اوحال داچي دمذهب يومعتمد عالم امام ربانى فرمايى :

دموسيقى په رواوالى كي دهر متصوف وينا دليل نسى كيداى .

المكتوبات ، لومړى ټوك ، ( ۲۶۶ ) نمبر مكتوب

والله اعلم بالصواب

*****

## ايا موسيقى پاک شى ده؟

دعلامه قرضاوى قول چي داسلام اوموسيقي نومى كتاب په اتمه صفحه كي رانقل سوي دي چي وايي : الله (ج) هغه تيرى كونكي بولى چي حلال اوپاک شى حرام اوكرغيرن بولى .نوموسيقى خوداسى شى ده چي انسانى فطرت يې غوښتنه كوى اوخوند پرى اخلى لكه معده چي دپاكو اوحلالومشروباتواوماكولاتو څخه خوند اخلى نوكوم كس چي انسان ددغه فكرى غوښتنى څخه منعه كوى اودغه سپيڅلى شى حرام بولى هغه كس تيرى كونكى دى ځكه الله(ج) فرمايى :

ياايهاالذين آمنوا لاتحرموا طيبات ما احل لكم ولاتعتدوا ان الله لايحب المعتدين.

ژباړه : اې هغه كسانو! چي ايمان موراوړى دى مه حرامه وى هغه پاک شيان چي الله(ج) حلال بللى دى تاسو ته اوتيرى مه كوى الله(ج) تيرى كونكى كسان نه خوښوى .

ښاغلى قرضاوى زياتوى هرانسان لره پكارده چي دتيرى كونكى كيفيت څخه ځان وژغورى .

اوس نوكه دقرضاوى خبرو ته ځيرسو قرضاوى موسيقى دنورو سپيڅلو ماكولاتو په څيربولى اودنورو پاكو ماكولاتو حكم موسيقى ته وركوى نودغه كارته دفقه اوعلم اصول له انده قياس ويل كيږى ثابته خبره ده چي قياس خپل شرطونه لرى چي له جملي څخه يې ددواړو لورو په ځينو شيانو كي برابرى ده كوم شيان

چي په ذات كي سره توپيرلرى هغه ريښتيني قياس ندى بلكى قياس مع الفارق دى ښاغلى قرضاوى چي موسيقى پرحلالو شيانو باندى قياسوى داقياس مع الفارق دى اوپايله يې خواهش پرستي ده ځكه كوم شيان چي په قران كي حلال بلل سوى دى دهغوى په حرمت كي هيچااختلاف ندى كړى اوموسيقى هغه شى ده چي په حرمت يې په ميلونو علماءقايل دى نويوشى چي اتفاقا حلال وى اوبل اختلافا حلال وى اودحلالوالى خوا يې هم ضعيفه وى ايا داسره برابردى ؟ ايا دغه كارته په شريعت كي وعيد ندى راغلى چي قرآنى ايات دخپل نظرمطابق جوړوى ؟ايا دغه شيان چي زيات سره توپيرلرى قياس مع الفارق ندى ؟ ايا داسى قياس كول جايز دى؟ بله خبره داده چي قرضاوى هغه كسان تيرى كونكى بولى چي موسيقى حرامه بولى نوموسيقى خو عبدالله بن عباس اوعبدالله بن مسعود رض حرامه بللى ده نودده به اند خو(العياذباالله) دوى هم دمعتدينو( يعنى تيرى كونكو ) په ډله كى راغله هم داړول كوم مذاهب، مفسرين ، محدثين اوعلماء چي موسيقى حرامه بولى هغه هم دده په اند په تيرى كونكوكي يعنى معتدين كي راځى ددومرى اصحابو ،محدثينو ، مفسرينو اوعلماؤسپكونكى اودوى ته دتجاوز نسبت كونكى

(c) ketabton.com: The Digital Library

به نوڅه حکم لری ؟ اوخبره یې ترکومه بریده ریښتونی وی ؟ باالاخره معلومه سوه چې موسیقی داسی سپیڅلی شی نده لکه نورپاک ماکولاتیامشروبات چې معده خوند تری اخلی یانورظاهری حواس چې دخپلومربوطه غوښتونو څخه خونداخلی .بله خبره داده چې موسیقی دماکولاتو،مشروباتو او نو روظاهری حواسوسره پرتله کول تر ډیره ځایه شونی ندی ځکه موسیقی هغه شی ده چې درواني غوښتنو سره اړه لری اوماکولات ، مشروبات اونورحواس دجسمی یافکری غوښتنو سره اړه لری څنګه به بیل کیفیت لرونکی شیان سره پرتله سی که پرتله هم سی نو هر شی چې انسانی غوښتن ځای یې غوښتنه کوی هغه پاک ، سپیڅلی اوروا شی نسی جوړیدلای ځکه ، شراب ، دنامشروع جنسی خواهشاتو اشباع اوداسی نور هم به انسانی غوښتنوپوری اړه لری .

# په هرشی کی اصل روا والی دی

کوم لیکوال چې دموسیقی درواوالی لپاره هڅی کړی دی نوددلیلونو په لړکې یې یودادلیل هم ویلی دی چې ټولی مسایلی په قران اوحدیث کې تفصیلاندی حل سوی ځکه طبعا په نړی کی نوی نوی شیان رامنځته کیږی یا په بل عبارت هغه وخت دټولو موجوده شیانو نومونه په قران اوحدیث کی نسوای ذکرکیدای نولدی امله دفقهاؤکرامو یوقانون دادی چې پر هرشی باندی دحرمت پریکړه درسته نده بلکی اصل په شی کی رواوالی دی یعنی اباحت دی نوپکارده چې پرموسیقی باندی هم درواوالی یعنی داباحت پریکړه وسی دلیکوال پورتنی خبره یوڅرګند حقیقت دی خو دومری باید ووایم چې لیکوال پدې ځای کې عمومی پریکړه کړی ده ټول

شیان یې یکښی رانغښتی دی اوحال داچې په هغو شیانو کې اصل رواوالی دی چې دحرمت خبره یې په قران کې نوی سوی اونه یې چا په حرمت کی اختلاف کړی وی ځکه که عمومی پریکړه وسی نودفقهی شریفی ترلړمطالعی ورسته به هرانسان داسی ډیرمختلف فیه شیان ووینی چې یقینا دمذهب له انده حرام دی مګر اختلاف پکښی سوی دی که په هرشی کی اصل اباحت سی نو بیخی ډیر حرام شیان به داباحت په ګټګوری کې راننوځی اوکه موسیقی ترفکری څیړنو لاندی ونیسو ویلای سو چې لومړی خوداخبره درسته نده چې دموسیقی حرمت ته په قران اوحدیث کې اشاره نده سوی فرضا که یې ورسره ومنو نواصل په هغوشیانو کې اباحت دی چې دحرمت دلوری ترجیح یې نوی نوموسیقی خو دحرمت له اړخه مرجحه ده ځکه که نوای نو څلورو مذهبونوبه یې پرنه رواوالی باندی یووالی نوای کړی .

بالاخره ویلای سو دمذهب پوهانو دقانون پورتنی ماده چې اصل په شی کې اباحت دی دموسیقی درواکونکی لپاره هیڅ دلیل نسی کیدلای ځکه که دغه ماده دهرشی درواوالی لپاره دلیل سی نودیوه لوی ناورین لاره به پرانیستل سی اوحال داچې دموسیقی په حرمت کې احتیاط دی اوپه حرمت کې به یې نجات یقینی وی اوپه اباحت کې نجات احتمالی وی نویقینی ګټه تراحتمالی ګټی غوره ده .لکه چې وایی : دع مایریبک الی مالایریبک .

ژباړه : هغه څه پریږده چې تا په شک کې غورځوی دهغه په پرتله چې تاپه شک نه اچوی .

# دموسیقی پررواکونکی باندی رد

دهغه لیکوال دلیلونه که مطالعه سی چې دموسیقی درواوالی لپاره یې راټول کړی دی نوپه عمده ډول یې ددلیلونو نچوړ څلورخبری کیږی .

لومړی : دځینو اولیاؤ ، صوفیوو اوځینو علماؤ ویناوی ددلیل په موخه .
دوهم : ځینی حدیثونه دموسیقی درواوالی دثبوت لپاره .

دریم :بله خبره یې داکړی ده چې دموسیقی دحرمت لپاره قوی حدیث نسته

څلورم : دلیکوال په اند دموسیقی حرمت په قرانکریم کی نسته .

(c) ketabton.com: The Digital Library

که پدې لېټه کې سو چې دلیکوال پورتنی پنځه خبری دثقه والی له پلوه پرکومه نقطه قرار لری ؟ اودموسیقی درواوالی لپاره دلیل کیدای سی که یا ؟ نوپکار ده چې دلیکوال خبری یوه په یوه وڅیړو .

دلیکوال لومړی دلیل چې دځینو اولیاؤکرامو اوعلماؤ کرامو ویناوی یې ددلیل په موخه راوړی دی ترډیره بریده دربښتینی لاری دموندلو لپاره درستی ندی ځکه مخکی مو یوځای اشارة اوبل ځای موصراحة ویلی وه چې دشرعی پوښتنی دحل لپاره الحمد لله په اسلامی نړی کې یوښکلی چوکاټ اویوښکلی قانون سته چې دمذهب څخه عبارت دی اوددینی پوښتنو دحل لپاره دهرچا قول ثبوت نسی کیدلای لیکوال ته پکار ده کومی ټولنی ته چې یې کتاب لیکلی دی دهغه ټولنی دمذهب دعلماؤ اواولیاؤ کرامو ویناوی دی دثبوت لپاره راوړی لکه چې افغانی ټولنه یوه حنفی ټولنه ده لیکوال ته پکار ده چې دحنفی مذهب دعلماؤ او اولیاؤ کرامو ویناوی دثبوت لپاره راوړی حاصل داچې لیکوال ته پکارده چې دلیل لپار ه ایات ، حدیث اویا دمذهب دلیل راوړی . داسی ایات نه چې مذهب یې یوډول تفسیروی اودی یې بل ډول تفسیروی . ترڅودډې حنفی مذهبه ټولنی پوره باور راسی داسی کړنه په دې معنی ده چې ستا په اند چې په سوو کلونه افغانی علماء نه پوهېدل اوموسیقی یې حرامه کړې وه خلک یې پرچپه روان کړی وه اوس به ستا پرلاری ولاړ سی اوکه ته دهرچا قول دثبوت لپاره رااخلی نو دهرچا قول خو درواوالی لپاره ثبوت نسی کیدلای ځکه داسی ډیری مسایلی په فقه عقایدو اونورو کی سته چې دمذهب دباندی یې علماء په وړاندی بیل ،بیل نظرونه لری که په هره شرعی پوښتنه کې دهرچا قول دثبوت لپاره رانقل سی نو دحق موندلو لپاره به څه ناورین رامنځته سی ؟ دمذهبی ټینګار په موخه ویلای سو چې دمذهب یوستر عالم امام ربانی لیکی : دموسیقی داباحت لپاره دځینو صوفیوو نظریات دلیل نسی کیدلای .

المکتوبات ، جلد اول ، مکتوب نمبر (۲۶۶)

حاصل داچې دلیکوال دغه لومړی دلیل چې دځینو اولیآؤ اوعلماؤ دویناو څخه عبارت دی هیڅ دلیل نسی کیدلای ترڅو دحنفی مذهب دعلماؤ اوصوفیانو اقوال یې ددلیل په ډول نوی راوړی .

بله خبره داده چې دلیکوال ډیری ویناوی چې داولیاؤ اوعلماؤ څخه یې رانقل کړی دی په ز یاتو ځایو کې حواله نه لری اونه دموثقو کتابونو جلد اوصفحه لری چې یوډول شک رامنځته کوی البته دځینو ځایو پرته چې هغه هم دده مدعی نه ثابتوی .

دریمه خبره داده چې لیکوال دغناء دلفظ اودملاهی دلفظ توپیرندی کړی غناء په ښکلی اواز،شعر یاغزل ویلو ته ویل کیږی اوملاهی موسیقی ته ویل کیږی غناء چې په شعرکې ئي کومه غیرشرعی خبره نوی دزیاتو علماؤ په اند رواده کوم څه چې حرام سوی دی هغه موسیقی ده حاصل داچې په بیله موسیقی شعرویلو کې لادځینو علماؤ اختلاف سته نودهغه سندری به څه حال وی چې موسیقی هم ورسره وی .

دلیکوال دویـــــــــــــــــــــــــــــــم دلیل

دموسیقی رواکونکی لیکوال دخپلی مدعی دثبوت لپاره په دویم قدم کې ځینی حدیثونه راوړی دی چې داعتماد لپاره بسنه نسی کولای اونه دموسیقی دروا والی لپاره ثبوت کیدای سی ځکه که موږ داسلام دپیل انځورګری وکړو اودرسول الله (ص) دنبوت څخه بیا دده مبارک دظاهری ژوند ترپایه پوری ټوله تاریخ مطالعه کړو اړینه ده چې دې نتیجې ته به رسیږو چې درسول (ص) داسلام په خپراوی کې سترحکمت داوو چې په لومړیو وختوکې یې ونوو مسلمانانوته دهغه احکاموامر نه کاوه چې ددوی په اند به سختی ګڼل کیده .

بله خبره داده چې داسلام ټول اوامراونواهی په یوه ځل ندی راغلی بلکی ډیر داسی شیان به وه چې داسلام په پیل کې به جایز وه وروسته به دقرانی ایاتو دنزول له امله حرام وګرځیده لکه مخکی چې مو وویل رسول الله (ص) نوی مسلمان کس ته هغه څه نه وړاندی کول چې ده به زحمت اوتکلیف ګڼل بلکی هغه وخت به یې نوموړی کس ته په کولو امر کاوه چې داسلام خوندبه یې وڅکیلکه څرنګه چې تراسلام وړاند ی نامسلمانو خلکو ډول ، ډول دودونه درلودل چې دجملی څخه یې موسیقی اوریدل ، نوروز لمانځل ، مهرجان لمانځل ، یو پربل باندی ځان غټ بلل اوداسی نوروه نورسول الله (ص) په تدریج اودوخت په تیریدوسره نوموړی کسان دناروا کارو څخه منعه کول لیکوال چې کوم حدیثونه رانقل کړی دی ټول هغه حدیثونه دی چې رسول الله (ص) په پیل کې داسلام ویلی دی لیکوال هیڅ داسی ثبوت نسی وړاند ی کولای چې په دقیق ډول دی دحدیث تاریخ معلوم کړی چې دغه حدیث په وروستیو کې ویل سوی دی ځکه د لیکوال دغه ویناوی چې کټ مټ یې دقرضاوی دکتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځخه رااخستی دی اوخپله یې ډېره کمه ځیرنه کړی ده ددې ځرګندونه کوی چې لیکوال دحدیثو ماهر ندی که وای نوده به خپله ځیرنه کړی وای اودقرضاوی تقلید به یې نه کولای ځکه پدغه موضوع کې نورحدیثونه هم سته چې لیکوال ندی ترګوتو کړی یواځی یې هغه احادیث رانقل کړی دی چې قرضاوی په خپل کتاب کې ذکر کړی دی .

دیادونی وړده چې لیکوال چې کوم حدیثونه رانقل کړی دی رسول الله (ص) ته یې سند ندی رسولی نوموړی لیکوال ته پکار ده چې دټولو احادیثو دراویانو اسامی بیان کړی ځکه دده په اند خو دچا تقلید ندی پکار ځکه که پکاروای نوده به په ځلورو حقو مذهبو کې دیوه مذهب تقلید کړی وای اودموسیقی پرنه رواوالی باندی به یې باور وای نوکله چې دده په اند تقلید نسو پکار نودی بیا ولی داحادیثو په سند کې دصحاحو برسند باندی اعتمادکوی ؟ ولی یې په سندکې تقلید کوی ؟ ولی یې په خپله په سند نه رسوی ؟ که دی وایي چې زه دصحاحو په لړکې دیوه په مذهب یم نودصحاحو مؤلیفین خو هم دموسیقی پرحراموالی باورلری ولی که یې نه درلودای نوښاغلی لیکوال به دخپلی خبری دثبوت لپاره په دوی کی دیوه نظر اووینا راوړی وای نوپکار وه چې ده خپل مذهبی قاید یوه ویناراوړی وای ځکه ټول حدیثونه خو دده دمذهبی قاید دراېی سره برابر ندی بلکې ضد اونقیض حدیثونه سته چې دمذهب په رڼاکې یې دتطبیق اویانسخی پریکړه کیږی .

( وعلی وجه التسلیم ) که دلیکوال خبری بیله کوم دلیله ورسره ومنو یعنی داچې ټول هغه احادیث چې لیکوال رانقل کړی دی منسوخ ندی ، په سند رسیدلی دی نو دعلم حدیث قانون خودادی چې کله حدیثونه ضد اونقیض راسی لومړی ددغو حدیثونو په منځ که تطبیق شونی وی نوتطبیق کیږی اوکه تطبیق شونی نوی بیایې تاریخ اونورو رجحاناتو ته کتل کیږی اوپریوه باندی دنسخی پریکړه کیږی .

لکه ځرنګه چې لیکوال ځینی حدیثونه داباحت لپاره رانقل کړی دی وروروسته به انشاء الله معلومه سی چې ځومری حدیثونه دحرمت لپاره هم سته ،کوم حدیثونه چې لیکوال داباحت لپاره بی سنده اوبی تاریخه اوبی ثبوته رانقل کړي دی که ددغه ټولونیمګړتیاو سره سره ورسره ومنل سی نوددغوحدیثونوترمنځ خو تطبیق سوی دی اودحرمت خوا یې راجحه سوی ده اوداچې ځنګه یې تطبیق سوی دی اوځنګه یې دحرمت خوا راجحه سوی ده ؟ دغه کار ډیرزیات تفصیل ته اړتیالری که دچاز ړه وی چې داعتماد تنده پری ماته کړی نووګوری :

( اسلام اورموسیقی ) دریم باب صفحه ( ۲۵۸ )

دلیکوال دریــــــــــــــــــــــــم دلیل

دموسیقی رواکونکی لیکوال دریم دلیل دادی چې دموسیقی دحرمت په اړه هیڅ قوی ( پیاوړی ) حدیث نسته که کوم حدیث راغلی وی هغه هم منقطع اویا ضعیف دی ځکه نوموړی لیکوال ابن حزم ظاهری هغه ویناوی رانقلوی چې وایي : کوم حدیث چې بخاری شریفی دموسیقی دحرمت په اړه روایت کړی دی قوی ندی ځکه دغه حدیث منقطع دی یعنی وصل ( یوځای والی ) یې دبخاری اوصدقه بن خالد ندی سوی اوپه منځ کې یې یونامعلوم راوی راغلی دی .

دلیکوال دغه دلیل دباور لپاره بسنه نسی کولای ځکه لومړی خو موږ ته دحدیث دنقلولو په صورت کې یواځی دبخاری سند ندی بلکې نوردحدیثو موثق اومعتمد کتابونه سته چې نوموړی حدیث یې په ډیرو قوی(پیاوړو) سندونو رانقل کړی دهمدې خبری دثبوت لپاره وګوری : بهیقی ( ۱۰\ ۲۲۱ ) .

دهند دنیمی وچی ( برصغیر) ستر عالم مفتی محمد شفیع صاحب لیکی : دابن حزم پورتنی وینا دباور وړنده چې وایي : بخاری چې کوم حدیث دموسیقی دحرمت په اړه نقل کړی دی هغه منقطع دی ( پری ) دی ځکه محدیثینو دابن حزم پردغه وینا باندی سختی نیوکی کړی دی اودده دزړه خیالی سوالو ته یې په زړه پوری اوقناعت ورکونکی جوابونه ویلی دی ان تردی چې ځینو علماؤ یې په مخالفت ځینی خپلواکی رسالی لیکلی دی چې دشلمی پیری دستر محدث ناصرالدین البانی رساله یې دیادونی وړده چې دابن حزم په رد کې یې لیکلی ده .

په آسیا کې دعلم داسمان دځلاندی ستوری مفتی محمدشفیع صاحب دهغو جوابو ځخه چې محدیثینو دابن حزم په رد کې ویلی دی ځینی رانقل کړی دی دکوم چاچې په دومری وینا قناعت نوی اودنورو جوابودلیدلوسره یې مینه وی نو وګوری : ( اسلام اورموسیقی ) صفحه ( ۱۴۰ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

دليکوال څلـــــــــــــــــــــــــــــــورم دليل

کوم ليکوال چې موسيقى روابولى دخپلو دلايلو په لړ کې وايې : په قران کې هيڅ داسى لفظ ندى راغلى چې موسيقى يې حرامه ګرځولى وى .

دروند ليکوال ددغه خبرى دسپيناوى اوڅيړنى په موخه د ( لهوالحديث ) لفظ راخلى چې دموسيقى دحراموالى لپاره مشهور لفظ په ايات کې دى ښاغلى ليکوال ليکلى : کوم کسان چې موسيقى حرامه بولى هغوى دابن عباس ،ابن مسعود ، ابن عکرمة (رض) اوځينو نورو په تفسير استناد کوى چې دلهوالحديث تفسيريې په غناء سره کړى دى ليکوال زياتوى : دموسيقى درواکونکو دغه استناد درست ندى ځکه نورو مفسيرينو دلهو الحديث تفسير په موسيقى سره ندى کړى بلکى په نورو شيانو سره يې کړى دى لکه بى ګټى شيان اوهغه شيان چې دڅښتن تعالى ( ج ) دعبادت څخه بوختيا په راځى اوداسى نور.

اوس نو که دليکوال پدې خبره کې تم سو اوتريوه بريده يې وڅيړو ويلاى سو چې دايوه ثابته خبره ده چې قران مجمل دى اوتفصيل يې په حديثو اوتفسيرکې نغښتى دى داهم ريښتينى حقيقت دى چې په قرانکريم کې په هغه پيمانه مفاهيم رانغښتى دى چې دټولو څرګندتيا يې دبشرى توان څخه وتلى دى خو ځينو مفسرينو يې لړ. تفسير کړى دى يعنى ديوه ايات مفهوم يې په ټيټه اندازه سپړلى دى بل مفسر بيا ترهغه انداز زيات تفسير کړى دى اودريم بيا تردويم زياتوب کړى وى يومفسر ديوه ايات يومفهوم ښکاره کړى وى بل مفسر بيا هغه مفهوم پرييښى وى بل مفهوم يې ښکاره کړى وى ځکه قران ډيرمفهومونه لرى دمفسيرينو پورتنى کار پدې معنى ندى چې دويم مفسروايې چې داول مفسرتفسيرغلط دى اوهغه شى دقران مراد ندى ، اوس راځو لهوالحديث ته چې مفسرينو يې په تفسيرکې بيل بيل نظرونه ورکړى دى خو ديادونى وړده چې په ټولو مفسرينو کې هيچا داسى ندى ويلى چې دلهوالحديث څخه موسيقى مراد نده که څه هم په نورو معناوو يې تفسير کړى وى اونه داسى تفسيرچاکړى دى چې دموسيقى دتفسير ضد وى دبيلګى په ډول يومفسروايې چې دلهوالحديث څخه هغه شى مراد دى چې يوڅوک دعبادت څخه مشغول کوى که دغه تفسيرته په دقت سره وکتل سى حتماموسيقى پکښې راننوتى ده کچېرى د لهوالحد ېث څخه مو سېقى مراد نواى نوددومرى مفسېرېنو په کاروان کى به ېوچاوېلي واى چى لهوالحدېث موسيقى نده څه دى چې په بل شى سره ئي تفسيرکړى وى ځکه لکه چې وموويل قرآن ډيرى معنى وى لرى کوم مفسير ېنوچى د لهوالحد ېث تفسير په نوروشيانو کړى دى په هغو ټولو شيانوکى موسيقى دا خله ده او مفسير ېن هم پر دغه اند دى چى موسيقى په لهوالحديث کى را ننوتى ده که څه هم يې په ليکى ډول خپل نظر ندى څرګند کړى د بيلګى په ډول ښاغلى ليکوال دمفتى محمد شفيع صا حب تفسير د لهو الحد يث پّه اړه رانقل کړى دى چې مفتې صاحب په معارف القران کې دلهوالحد ېث تفسير په بى ګټو شيا نوسره کړى دى کچيرى دغه تفسير پدى معنى وى چې مو سيقى په بى ګټو شيانو کى دا خله نده نوولى بيا نومو ړى ستر عالم دموسيقى په اړه خپلواک کتاب ليکلى دى چې موسيقى يې حرامه ګرځولى ده .

حاصل داچې دټولو په اتفاق موسيقى په لهوالحديث کې داخله ده اوالله (ج) ورته د سختوعذابو وعده کړى ده اوداخبره هم درسته نده چې موسيقى په قران کې نسته بلکى يقينا موسيقى په قران حرامه ګرځول سوى ده چې نورتفصيل اودلايل به يې انشاء الله تر راتلونکې عنوان لاندى وڅيړو .

والله اعلم بالصواب وعند ه ام الکتاب

* * * * * *

## دموسيقى ناوړه پايلى

مفتى محمد شفيع رحمة الله عليه ليکى :

دايوڅرګند حقيقت دى چې دبشريت موخه دبندګۍ اولمانځنى لپاره ګرځول سوى ده ځکه څښتن تعالى (ج) فرمايى :

(c) ketabton.com: The Digital Library

وما خلقت الجن والانس الاليعبدون .

ژباړه : ما ندی پیداکړی پیریانان اوانسانان مګردديِ لپاره چي عبادت وکړی .

کله چي دانسانانو پیدایښت دعبادت لپاره سو نوهرشی چي دعبادت مخه نیسی اودخپل ریښتینی څښتن تعالی (ج) څخه يي ليری کوی ښکاره خبره ده چي هغه شی حرام دی .

موسيقی هغه شی ده چي انسان په لنډمهالی اومجازی خوندونو بوخت ساتی اودعبادت څخه يي غافله ساتی ځکه طبعی خبره ده چي انسانی ټولی کړنی انسانی فکر اداره کوی اوفکر يوداسی شی دی چي کله په يوشی بوخت سی نو ددويم شی داداره کولو جوګه ندی ځکه دپيژندنی محققينو ( ځيرونکو ) ويلی دی : ذهن يوبسيط ( مفرد ) شی دی امتياز ( توپير ) ددووشيانوپه يوه ان کي نسی کولای نوکله چي فکر په مجازی لذت( خوند ) اخته سی کله به بيا دالله (ج) اودهغه ددين مينه ورسره پاته سی دپورتني خبری ښه ثبوت درسول الله (ص) په زمانه کي دشتمن مشرک ( نضربن حارث )کړنی دی چي نوموړی دهغه کسانو لپاره څو سندری ويونکي وينځيانی رانيولی وی هغوته به چي رسول الله (ص) دعوت ورکړی وو اوداسلام سره به يي مينه پيداسوی وه نضربن حارث داسی کسان بيول ميلمستيا به يي ورکول وروسته به يي په دغووينځيانو باندی سندری اوموسيقی ورته اورول ترڅودوی ددين څخه غافله کړی اوددي ناوړی لاري سره يي مينه زياته سی بيابه يي ورته وويل : دمحمد(ص) دعوت اودين لذت (خوند) لری اوکه داموسيقی اوسندری ؟ ، وروسته الله (ج) داايات نازل کړی: ومن الناس من يشتری لهوالحديث ، الاية .

روح المعانی ، جلد ( ۲۱ ) صفحه ( ۲۷ ) الکشاف ، جلد دوهم صفحه ( ۴۹ )

نومعلومه سوه چي دډيرپخوا څخه لامعلومه وه چي دموسيقی انسان ددين څخه غافل ګرځوی نو له همدی امله دموسيقی الاتو ته په عربی ژبه کي ( ملاهی ) يعنی غلونکی اوغافل کونکی وايي يا په بل عبارت په عربی ژبه کي نغمی ( موسيقی ) ته لحن وايي لحن معنی غلطی چي څوک ديوه حالت څخه بل حالت ته غلطوی. حاصل داچي دموسيقی يوه ناوړه پايله داده چي څوک موسيقی اوری ددين څخه به غافله وی .

دوهم داچي موسيقی اوريدل دنفاق اورشيندی ددي خبری دسپيناوی په موخه رسول الله (ص) فرمايي : الغناء ينبت النفاق فی القلب کما ينبت الماء البقل .

بهيقی جلد لسم صفحه ( ۲۲۳ )

ژباړه : سندری په زړه کي داسی نفاق شين کوی لکه اوبه چي واښه شنه کوی .

دموسيقی په اوريدلوکی دغفلت اونفاق ترڅنګ نوربد اثرات هم نغښتی دی لکه اقتصادی ضعف ، قحطی اوداسی نور داچي ولی اوڅنګه ؟ دتفصيل لپاره وګوری :

( اسلام اورموسيقی ) صفحه ( ۸۲ )

## موسيقی قرانکريم حرامه کړی ده

که څه هم په تيرو ليک پاڼو کي موځيني ځايونه ، ځينو قرانی لارښوونو ته اشاره کړی ده چي موسيقی حرامه ثابتوی خو دلاروښانتيا په موخه څو اياتونو ليکو ترڅو په ښکاره معلومه سی چي دليکوال هغه خبره بی بنسټه ده چي موسيقی په قران کی نده حرامه سوی .

الله (ج) فرمايی :

ومن الناس من يشتر ی لهوالحديث ليضل عن سبيل الله بغيرعلم ويتخذها هزوا اولاءک لهم عذاب مهين . ( سورة لقما ن ۶ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : ځینی دخلکو څخه هغه څوک دی چې بی ګټی شیان رانیسی ترڅو (خلک ) دالله (( ج) دلاری څخه لاروړکی کړی بی له پوهی ( پدې سپیځلی لاره) پسی مسخری ( خندا ) کوی ددغه خلکو لپاره سپکونکی عذاب دی .

په پورتنی ایات کې الله (( ج) وفرمایل هغه څوک چې لهوالحدیث رانیسی اوخلک په لاروړکی کوی زه سپکونکی عذاب ورکوم . اوس پوښتنه داده چې لهوالحدیث کوم شی دی چې الله(( ج) حرام ګرځولی دی اوپه قران کې یې یادکړی دی ددې پوښتنی جواب په دمفسرینو څخه ازده کړو یوستر مفسر عبدالله بن مسعود(ض) فرمایی : په الله (( ج) قسم یادوم چې لهو الحدیث غناء ده حاصل داچې لهوالحدیث موسیقی ده څکه چې غناء دمو سیقی پرته شعر ویل دی په ښکلی اواز سره نوکله چې موسیقی ورسره مل سی نوبه یې څه حال وی . الله(ج) دموسیقی لپاره سپکونکی عذاب وښودی دعبدالله بن مسعود(رض ) پورتنی روایت قاضی شوکانی رانقل کړی دی اوبیا لیکی : نوموړی روایت ابن ابی شیبه ، ابن حکیم اوبهیقی په صحیح سند سره روایت کړی دی .

اسلام اورموسیقی صفحه ( ۱۱۰ )

نیل الاوطار ( ۸ \ ۱۰۰\ )

سنن الکبری للبهیقی ( ۱ ) ۲۲۳ \

مستدرک الحکیم ( ۲\ ۴۱۱ )

تفسیرابن جریر ( ۲۱ \ ۳۶ )

بهیقیی لیکی : عبدالله بن عباس (رض)ویلی دی : په پورتنی ایات کې چې الله ( ج ) کوم شی حرام کړی دی : سندری دی اوهغه شیان دی چې دسندرو په څیر وی امام بهیقیی زیاتوی دغه خبره موږ دمجاهد ، عکرمه اوابراهیم نخعی څخه هم روایت کړی ده .

الادب المفرد مع فضل الله الصمد ( ۲\۶۶۳ )

السنن الکبری للبهیقی ( ۱\ ۲۲۱\ ۲۲۳ )

تفسیرابن کثیروایي : پورتنی ایات دسندرو ږغولو په اړه نازل سوی دی .

تفسیرابن کثیر ( ۳\ ۴۴۳ )

روح المعانی ( ۲۱ \ ۶۷ )

دنوموړی موضوع لپاره مفتی محمد شفیع صاحب رغنده څیرنه کړی ده زه به یوازی دنقال په ډول دښاغلی مفتی صاحب دلیکنی څوخبری رانقل کړم :

الله(( ج) فرمایي :

افمن هذا الحدیث تعجبون وتضحکون ولاتبکون وانتم سامدون .

( النجم ۵۹\ ۶۰\۶۱ )

ژباړه : ایا تاسو ددې خبری څخه تعجب کوی اوخاندی اونه ژاړی حال داچې تاسو لوبی کوی اومستی کوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پورتنی ایات کریمه کې الله (( ج) دسامدون لفظ ویلی دی یعنی تاسو سمود کونکی یاست اوس خبره داده چې سمود څه ته وایی ؟ دسمود په اړه امام ابوعبیده فرمایی : په حمیرژبه کې سمود سندروته وائی . عکرمه هم ورته روایت کړی دی اوبخاری هم دعکرمه قول رانقل کړی دی .

روح المعانی ( ۲۷\ ۷۲ )

صحیح بخاری مجتبائی ( ۲\ ۲۷ )

علامه ابن منظور لیکی : روی انه قال السمود الغناٰء لغة الحمیر .

ژباړه : دعبدالله ابن عباس رض) څخه روایت سوی دی : نوموړی فرمایی : سمود په حمیرژبه کې سندروته وایي .

لسان العرب ( ۴ \۲۰۴ )

عبدالله بن عباس رض) دسمود په تفسیرکي فرمایلی دی :

هوالغناء بالیمانیة وکانو اذاسمعوا القران غنوا تشاغلا عنه .

اخرجه عبدالرزاق والبزاز وابن جریر والبهیقی .

ژباړه : ( سمود ) په یمانی ژبه کې سندروته وایي کله چې په مشرکینو قرانکریم واوریدی نودځان مشغوله کولو په موخه بی ئی سندری ویل پیل کړه .

روح المعانی ( ۲۷\ ۷۲ )

سنن بهیقی ( ۱۰ \ ۲۲۳ )

تفسیرابن جریر ( ۴۷\۴۳\۴۴)

دیادونی وړده چې علامه هیثمی دسمود په تفسیر کې په سندرو ویلو سره دعبدالله بن عباس رض) څخه رانقل کړی دی بیا ئی ویلی دی : رواه البزارورجاله صحیح .

مجموع الزوائد ( ۷\ ۱۱۶ )

دلغت نوموتی پوه علامه ابن درید په جمهرة الغة کې وپورتنی خبری ته په څرګند ډول ګوته نیولی ده اوبیا ئی لیکلی دی : ددې ترڅنګ چې سمود سندرو ته وائی ، سمود هرهغه شی په معنی هم راغلی دی چې غافله کونکی وی اویا دلوبی په ډول پاڅیدونکی وی .

جمهرة الغة ( ۲ \ ۶۶۵ )

دپورتنی ایات تفسیراوشان نزول ته که سالم فکر په پوره ډول ځیرسی په ښکاره ډول معلومیږی چې سندری دغفلت ،ناپوهی اوتکبر دلیل دی ځکه مشرکانو داکار کوی چې الله(( ج) ئی په شان کې پورتنی ایات نازل کړی .

دتصوفوپه اسمان کې ځلانده ستوری اوسترزاهد علامه سهروردی دموسیقی په حرمت کې دری ایاتو نه رانقل کړی دی .

وګوری : عوارف المعارف الباب الثالث والعشرون فی القول فی السماع ردا وانکارا ( ۱۸۷ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا ډول الله (ج) دسپيڅلوانسانانو دصفاتو په لړکي فرمايی :

لايشهدون الزور ( سورة القمان ٧٢ )

ژباړه : هغوی په بی ګټوخبرو کې نه شامليږی .

په پورتنی ايات کې چې د( زرو) لفظ راغلی دی اوالله (ج) يې دسپيڅلوانسانانو څخه نفی کوی په تفسيرکې يې محمد بن حنفية اومجاهد ليکی : زور وموسيقی ته وايی .

کف الرعاع . ابن حجرالمکی مطبوع بهامش الزواجر ( ١٣٩ )

اوعلامه سيوطی هم ورته قول په درالمنثور کې \٥\٨\ کې دحسن اوابوحجاف څخه رانقل کړی دی .

امام ابوبکر جصاص دپورتنی ايات په تفسيرکی ليکی :

عن ابی حنيفة (رح) الزور الغناء .

ژباړه : ابوحنيفة (رح) څخه روايت سوی دی چې زور سندری ويل دی .

احکام القران\٣ \۴٢٧\

********

## موسيقی رسول الله ( ص )حرامه کرځولی ده

لکه چې دهرمسلمان وزړه ته تيره ده چې دبشريت ورستی ستر لاربنود حضرت محمد(ص) دی دالله تعالی (ج) رضا ، ددوزخ نجات ، جنت ته تلل اودډنيا اواخرت برياوی درسول الله (ص) په پيروی کې مسيرکيدای سی يعنی که څوك کامله نيکمرغی غواړی نوپه هغه څه دی عمل وکړی چې رسول الله (ص) امرورته کړی دی اودهغه څه څخه دې منعه وکړی چې رسول الله (ص) منعه تری کړی وی لکه څرنګه چې موموسيقی په قران کې وڅيړله اومعلومه سوه چې موسيقی قران حرامه کړی ده همدا ډول سترلاربنود حضرت محمد (ص) هم موسيقی حرامه کړی ده که څه هم دموسيقی دحرمت ( ناروااوالی ) لپاره ډيرحديثونه سته خودبيلګی په ډول به ځينی حديثونه رانقل کړو .

١_ رسول الله (ص) فرمايی :

عن ابی عبدالرحمن بن غنم قال : حدثنی ابوعامر اوابومالك اشعری (رض)انه سمع النبی (ص)يقول ليکونن من امتی اقوام يستحلون الحر والحريروالخمر والمعازف ( اخرجه البخاری فی الاشربة ) وفی لفظ : يشربن ناس من امتی الخمريسمونها بغيراسمها يعزف علی رؤسهم باالمعازف والمغنيات يخسف الله بهم الارض ويجعل منهم القردة والخنازير.

رواه ابن ماجة وقال عن ابی مالك اشعری (رض)ولم يشك .

منتقی الاخبار ( ٩٦ ج\ ٧)

ژباړه : دعبدالرحمان بن مغنم څخه روايت دی : نوموړی فرمايی : ما دابوعامر اويا دمالك اشعری (رض)څخه واوريدل چې ده درسول الله (ص) څخه اوريدلی وه چې ارشادېي فرمايه : نژدی ده چې زما په امت کې به داسی خلك پيداسی چې زنا ، وريښم

(c) ketabton.com: The Digital Library

، شراب اوموسيقى به روابولي . په يوه روايت کي داسي راغلي دى : نژدى ده چي زما په امت کي به داسى خلک پيداسى چي شراب به چينى اوپه بل نامه به يي نوموى په سرونو باندى به يي سندرغاړى سندرى وايى ښتن تعالى (ج) به داسى خلك په مځکه ننه باسى اوبنى به يي دخنزيرانو اوبيزوگيانوپه څيرکړى .

نوموړى حديث دسنن ابى داؤد ترڅنګ ابن حبان هم روايت کړى دى .

مواردالظمان الى زوائد ابن حبان كتاب الاشربة باب فمن يستحل الخمر

صفحه (۳۳۶)

صحيح بخارى كتاب الاشربة باب ماجاء فى من يستحل الخمر ويسميه بغيراسمه جلد دوهم صفحه (۸۳۷)

ابن ماجة كتاب الفتن باب العقوبات صفحه ( ۳۰۰ )

اغاثة الهفان جلد لومړى صفحه ( ۲۶۱ )

روښنائى : په پورتنى حديث کي رسول الله (ص) دوى خبرى وښودلى لومړى

داچي موسيقى حرامه ده دوهم داچي موسيقى اوريدل كبيره گناه ده ځكه دصغيره گناه په كونكى باندى دومرى عذاب نه راځى داهغه حديث دى چي فقهاء كرام دي ډول حديث ته قوى دليل وايى . ځکه پورتنى حديث په صحيح سند رسول الله(ص) ته رسيدلى دى كوم كسانو چي دخپلى شومى لارى دموندلو په موخه نوموړى حديث ضعيف بولى اويواځى ئى دبخارى څخه روايت كوى اوبيائى په يوډول ضعيف تثبيتوى نوموړى كسان خولومړى په حديثوكي لږه مطالعه لرى ځكه پورتنى حديث يواځى بخارى نه دى روايت كړى بلكى لكه مخكى چي موورويل نورو دحديثوكتابونو په قوى سندونو سره روايت كړى دى . دويم داچي نوموړى كسان دبخارى په روايت هم ندى پوه اودبخارى دغه روايت هيڅ ضعيف ندى داچي ولى ؟ ددليل لپاره تيروپاڼو ته مراجعه وكړى بياځلى ( تكرار) به مو وخت ضائع كړى ځينى خلك بيا دخپلى شومى موخى دترلاسه كولو له امله دپورتنى حديث يولاروركونكى تاويل كوى چي هيڅ اصل اوبنسټ نه لرى داچي ولى ؟ ددليل لپاره وګورى :

اسلام اورموسيقى صفحه (۱۲۶ )

۲- رسول الله (ص) فرمايى :

عن ابى هريرة (رض) ان رسول الله (ص) قال : يمسح قوم من امتى فى اخرالزمان قرددة وخنازيرقالوا يارسول الله (ص) امسلمون هم ؟ قال : نعم يشهدون ان لااله الاالله وانى رسول الله ويصومون ، قالوافمابالهم يارسول الله ؟ قال : اتخذوالمعازف والقينات والدفوف وشربوا هذه الاشربة فباتوا على شرابهم ولهوهم فاصبحوا وقدمسخوا .

رواه مسدد وابن حبان ، كف الرعاف جلدلومړى صفحه ( ۲۲۰)

ژباړه : دابوهريرة (رض) څخه روايت دى : دى مبارک فرمايى : رسول الله (ص) فرمايلى دى : په اخره زمانه کي به زما په امت کي ځينى قومونه مسخه سى دبيزوگيانواوخنزيرانوپه بڼه به بدل سى اصحابوکراموپوښتل : يارسول الله ايا دوى به مسلمانان وى ؟ رسول الله (ص) وفرمايل : وو دوى به شاهدى وركوى چي دالله (ج) پرته بل لايق دعبادت نسته ( اوشاهدى وركوى ) چي زه دالله (ج) رسول يم اوروژى نيسى . اصحابو وبوښتل : يارسول الله څه به دوى ته پيښه وى ( يعنى دوى به ولى دداسى برخليک سره مخ وى ) ؟رسول الله (ص) وفرمايل: دوى به موسيقى ( اوريدل ) دسندرغاړو ښځو ( موسيقى اوريدل ) دځان لپاره عادت گرځولى وى اوشراب به چينى يوه شپه به دوى په شراب چيښلو اولهولعب تيره کړى وى کله چي سهار سى دوى به مسخه سوى وى

۳- رسول الله (ص) فرمايى :

(c) ketabton.com: The Digital Library

عن علی بن ابی طالب رض قال : قال رسول الله (ص اذا فعلت امتی خمس عشرة خصلة حلت بها البلاء وفیه واتخذ القینات والمعازف .

رواه ترمذی . منتقی الاخبار وسنن ترمذی جلد اول صفحه ( ۴۴ )

ژباړه : دحضرت علی کرم الله وجهه څخه روایت دی : ده مبارک فرمایلی دی : چې رسول الله rوفرمایل : کله چې زما په امت کې پنځلس خویونه پیدا سول نو دبلاوو نزول به پیل سی رسول الله rددغه پنځلسو څخه موسیقی اوسندرغاړی ښځی دودیدل هم وشمیرل .

۴- رسول اللهr فر ما یی : عن سهل بن سعد قا ل :قال رسول الله r یکون في هذه الامه خسف و مسخ وقذ ف قیل ومتی ذا لک یا رسول اللهr ؟ قال اذا ظهر ت القینا ت وا ستحلت الخمر .

رواه عبد بن حمید و الفظ له وابن ما جه مختصر ا .

سنن ابن ما جه کتا ب الفتن باب الخسوف (۳۰۴)

ژبا ړه : د حضر ت سهل بن سعدtڅخه روایت دی: دی مبا رک فرماېي :رسول الله r وفر ما یل : وې به په دې امت کې په مځکه ننوتل ،په حیوانی بنو، اوښتل ،او د ډبرو اوریدل ،یو چا وپوښتل :دا به کله وي یا رسول الله ؟ رسول اللهr و فرما یل :کله چي سند ر غا ړي ښځي ځر ګندی سوې او خلکو شرا ب حلال وګڼل .

دا چي مو ضوع مو ډیره نو ي اوږد ه کړي ویلای سو چي دموسیقی دحرمت لپاره ډیراحادیث راغلی دی چي دهغو ټولو یوځای کول پدې وړکوټی رساله کي ګران کار دی دکوم چا چي په پورتني حدیثونو باندی دباور پیمانه نوی ډکه سوی کولای سی چي نور حدیثونه اونورموثق دلایل دلنډی لاری په اسلام اورموسیقی صفحه ( ۱۲۴ ) کي اوپه جواهرالفتاوی لومړی ټوک صفحه ( ۵۵۷ ) ترلاسه کړی ، که پورتنی کتابونه نسی پیداکولای نوداعتماد لپاره دی لاندی معتمد کتابونه مطالعه کړی ترڅو ټول هغه حدیثونه یی دذهن تړواکمنی تیرسی چې دموسیقی دحرمت لپاره ذکرسوی دی :

بخاری جلد اول صفحه ( ۸۳۷)

ابن ماجة صفحه ( ۳۰۰ )

اغاثة الهفان جلد اول صفحه ( ۲۶۱ )

نیل الاوطار جلد اتم صفحه ( ۹۷ )

نیل الاوطار جلد اتم صفحه ( ۱۰۰ )

ابن حبان صفحه ( ۳۳۶ )

ترمذی \ ۲\۴۴\۱ ،

کف الرعاع \ ۱۰\ ۱۱\ ،

کف الرعاع جلد اول صفحه ( ۱۵ )

منتقی الاخبار وسنن ترمذی جلد اول صفحه ( ۴۴ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

سنن ابن ماجه باب الخسوف \ ۳۰۴\( ابن ابی الدنیا فی ذم الملاهی )

مسند احمد جلد دوهم صفحه ( ۸ )

مسند احمد جلد دوهم صفحه ( ۱۵۸ )

مسند احمد جلداول صفحه ( ۲۷۴ )

مسند احمد جلد دریم صفحه ( ۴۳۳)

مسند احمد جلد پنځم صفحه ( ۲۶۸ )

مسند احمد جلد شپږم صفحه ( ۱۵۰ )

ابوداؤد کتاب الادب باب کراهیة الغناء والزمر جلد دوهم صفحه ( ۶۷۴ )

ابوداؤد کتاب الاشربة باب ماجاء فی السکر جلد دوهم صفحه ( ۵۱۹ )

سنن ابی داؤد کتاب الاشربة باب فی الادعیة جلد دوهم صفحه ( ۵۲۰ )

مسند ابی داؤدالطالیسی صفحه ( ۵۵)

ابوداؤد جلد څلرم صفحه ( ۴۳۵ )

بهیقی باب ماجاء فی ذم الملاهی من المعازف والمزامیر جلد اول صفحه(۲۳۱)

بهیقی جلد لسم صفحه ( ۲۲۲ )

کنزالعمال جلد اوم صفحه ( ۵۳۵ )

مسلم جلد دوهم صفحه ( ۲۰۲ )

والله اعلم بالصواب

********

# موسیقی په څلورو مذهبوکې درواوالی لاره نلری

درنولوستونکو لکه مخکی چې موپردې خبره ډیراسرار وکړی چې افغانی ټولنه یوه حنفی مذهبه ټولنه ده یواځی هغه خبری ورته داعتماد لاره خپلوی چې حنفی مذهب پریکړه پری وکړی خوپه تاسف سره باید ووایم چې په معاصروخت کې یوه لیکوال دموسیقی درواوالی لپاره ځینی داسی نکات راجمعه کړی دی چې دڅلورومذهبونو څخه وتلی دی اوکه یې دیوه مذهب دیوه عالم نظر راوړی وی هغه دلیکوال مدعی نه ثبتوی ځکه هغه عالم پریوه اند وی خودی دهغه عالم دوینا څخه بل شی ثبوتوی ځکه امام ربانی (رح)فرمایی :

دموسیقی په رواوالی هیڅ فقیه قول ندی کړی اونه یې یوفقیه روابولی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

المکتوبات جلد اول دمکتوب شمیره ( ۲۶۶ )

اوس که پدې فکرکې سو چې په ځلورو مذهبوکې څنګه درواوالی لاره نسته ؟ نوپه خپل وارسره به دځلورومذهبونو علماؤنظريات په لړه پیمانه راواخلو ترڅو داعتماد تنده موړی ماته سی .

## موسیقی دحنفی مذهب له انده

مخکی تردې چې دحنفی مذهب دعلماؤ ویناوی رانقل کړو ستاسو پاملرنه یوه لنډکی مشهورحکایت ته راګرځوم چې ( الاشباه والنظایر) رانقل کړی دی اودسیدنا امام ابوحنیفة (رحمة الله علیه ) مذهب انځوروی : یوه ورځ چې سید ناامام ابوحنیفة ( رحمة الله علیه ) یوه باغ ته سیل لپاره راوتلی وو نو پرلاری مشهور قاضی ابی لیلی ورسره مل سو دلاری په اوږدو کې دداسی ښځو سره مخامخ سو چې سندری یې ویلی خوکله چې هغو ښځو دغه سپیڅلی مخور علمآؤ ولیدل نوچپ سوی امام ابوحنیفة ( رحمة الله علیه ) چې ورته رانژدی سونو ورته وې ویل : احسنتن ( یعنی ښه مووکړه ) دځه وخت په تیریدو سره قاضی ابن ابی لیلی ته ددعوې یوه مقدمه راغله چې دامام ابوحنیفه ( رحمة الله علیه ) دشاهدی ورکولو پکښې اړتیا وه کله چې امام ابوحنیفة ( رحمة الله علیه ) شاهدی ته حاضرسو نوقاضی ابن ابی لیلی ورته وویل : اې استاده ! ستا شاهدی نه قبلیږی ځکه تا په هغه ورځ وسندرغاړو ښځو ته وویل چې ښه مو وکړه څوک چې داسی کوی شاهدی یې دقبولیت وړنده امام ابوحنیفة ( رحمة الله علیه ) ورته وویل : ماوښځو ته پرسندرو ویلو ښه ندیویلې ځکه دا فاسق عمل دی بلکی ما وښځوته پرچوپتیا ښه وویل یعنی داچې تاسو دسندرو څخه چوپ سواست دامو ښه کاروکړی .

الاشباه والنظایرصفحه ( ۶۵۰ )

که دامام ابوحنیفة ( رحمة الله علیه ) وپورتنی وینا ته ځیرسی یقینا ښکاری چې دده په اند موسیقی اوسندری هیڅ ندی روا .

دهدایې مؤلف لیکی : دسندرغاړی شاهدی نه قبلیږی ځکه خلک دکبیرې ګناه لپاره یوځای کوی . هدایه ، کتاب الشهادات جلددریم صفحه(۱۶۲)

دهدایې دمؤلف دپورتنی قول په تشریح کې دسندرو اوموسیقی په اړه محقق ابن همام څوصورتونه بیان کړی دی چې زموږ دموضوع اړوند یې دځبرو نچوړ په لاندی ډول دی :

څرنګه چې ښاغلی مؤلف صاحب عمومی سندرغاړی دشاهدی ورکولو څخه بی برخی کړی دی مګر حقیقت دادی چې دهغه سندرغاړی شاهدی نه قبلیږی چې سندری دموسیقی سره وایی اویاداسی سندری وایی چې موسیقی نوی ورسره مګرناوړه شعرونه وی لکه دښځو صفت اویا دشرابو بیان پکښی سوی وی. هغه شعرونه په ښایسته اواز سره ویل چې ناوړه نوی اوموسیقی نوی ورسره هغه پروانکوی .

فتح القدیر جلد شپږم صفحه ( ۳۶ )

نوکله چې دبې موسیقی سندرغاړی شاهدی نه قبلیږی نودموسیقی والابه څه حال وی اوګناه به یې څومره وی ؟

علامه کاسانی لیکی : کوم سندرغاړی چې پرځان باندی دسندرو ویلو لپاره خلک راټولوی ترڅو دده دسندرو څخه خوند واخلی نوموړی سندرغاړی عادل ندی یعنی شاهدی یې نه قبلیږی که څه هم شراب نه چیښی اوکه یې داسی شعرونه په ښایسته اواز ویل چې غیرشرعی الفاظ نه وه پکښی اوموسیقی نه وه ورسره پروانکوی نوموړی عالم زیاتوی : دهغه موسیقی اوریدل چې په خپل ځان کې بده وی لکه ډول ، رباب ، ( ځای ناستی یې لکه اوسنی کیبورډی کمپوز ) اویادوی ته ورته نورشیان ، اوریدل اوویل یې حرام دی ، اوکوم شیان چې په خپل ځان کې ناوړه نوی لکه زنګ ( یالکه اوس دځینو بې سروزه تلیفنونو زنګونه اویا ددرسی ساعت دبدلیدو زنګونه ) ، پروانکوی .

بدایع اوصنایع جلد شپږم صفحه ( ۲۶۹ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

فتح القدير ليکی : پوه سه چې موسيقی په ټولو دينونو کې حرامه ده .

فتح القدير جلد شپږم صفحه ( ۴۸۱ )

ردالمحتار دابی هريرة ( رضی الله عنه ) روايت رانقلوی چې رسول الله r وفرمايل : موسيقی اوريدل ګناه ده ، ورته کښيناستل فسق دی اوخوند پری اخستل کفردی .

ردالمحتار جلد پنځم صفحه ( ۲۲۳ ) .

نيل الاوطار جلد اتم صفحه ( ۱۰۰ )

الله (جل جلا له ) دسپيڅلو انسانانو داوصافو دبيان په تعقيب فرمايی :

لايشهدون الزور . ( سورة الفرقان الاية ۷۲ )

ابوبکر جصاص دابوحنيفة ( رحمة الله عليه ) څخه دپورتنی ايات په تفسير کې داسی روايت کوی : د ( زور) لفظ چې الله ( جل جلاله ) يادکړی دی موخه ځنی غناء ده .

احکام القران جلد دريم صفحه ( ۴۲۸ )

دابوحنيفة ( رحمة الله عليه ) دپورتنی تفسير څخه په ښکاره معلوميږی چې دده په اند موسيقی حرام شی دی نوله دی امله يی الله ( جل جلاله ) دسپيڅلو انسانانو څخه نفی کوی .

## موسيقی دشافعی مذهب له انده

دهند دنيمی وچی ( برصغير ) سترعالم مفتی محمد شفيع صاحب په خپل کتاب ( اسلام اورموسيقی ) په صفحه ( ۳۱۲ ) کې ليکی : دټولو شوافعو علماؤ پردې اتفاق دی چې هغه شعر په ښکلی اواز ويل چې غيرشرعی الفاظ پکښی وی اوشهوانی قواوی راپاروی حرام دی همدا ډول هغه موسيقی بيله شعره چې مستی په انسانی وجود کې پيداکوی حرامه ده اودشوافعو علماؤ پردې اتفاق دی چې غزل دنامحرمی ښځی يا لغړزنی هلک څخه مطلقا حرام دی که څه هم په پرده کی وی لکه معاصره موسيقی چې په افغانی ټولنه کې دود ده اوپه کيسټونو اوسيډيانو کې خرڅيږی ځکه دشافعی مذهب ستر عالم امام غزالی رح دموسيقی اوپه ښکلی اواز دشعرونو په اړه ليکی : هغه شعر ويل حرام دی چې غيرشرعی الفاظ پکښی وی لکه پوچ اورد ، بی حيا الفاظ ، دالله جل جلاله يا درسول الله صلی الله عليه وسلم ، يا داصحابو بد اويا دښځو صفت پکښی وی که څه هم موسيقی نوی ورسره امام غزالی رح زياتوی : دوهم هغه موسيقی دشعر پرته ږغول حرام دی چې شهوانی قوه راپاروی او سندرغاړی يې استعمالوی لکه رباب ، ډول ، شپيلی اوداسی نور دريم دښځې اويا لغړزنی هلک شعر ويل په ښکلی اواز سره حرام دی که موسيقی ورسره وی اوکه نوی ورسره ځکه ددوی داواز څخه دنورو شهوت پورته کيږی . څلورم هغه کس ته موسيقی اوريدل حرام دی چې جنسی غوښتنی باندی برلاسی وی لکه دنوی ځوانی پرمهال اوداسی نوروختونه . پنځم هغه عام سړی ته په ښکلی اواز شعرونه اوريدل ندی روا چې خپل زيات وخت پری ضايع کوی اوکه يی لږ وخت ورکاوه نوپروانکوی البته چې دوديزه موسيقی ورسره نوی لکه رباب ، ډول اوداسی نور ځکه چې نوموړی موسيقی امام غزالی رح استثناء کړی

احياء العلوم جلد دوهم صفحه ( ۲۵۰ )

دامام غزالی رح دپورتنی تحقيق څخه معلومه سوه چې يواځی موسيقی اوريدل ندی روا ځکه موسيقی چې افغانی ټولنه دموسيقی په نامه پيژنی هغه موسيقی امام غزالی رح حرامه ګرځولی ده اونه شعر دموسيقی په ملنه روادی اونه دښځو په اواز کې شعر اوريدل روادی اونه دلغړزنو شعر اوريدل روادی حاصل داچې په معاصروخت کې چې کومی موسيقی موږاورو يايی وينو داريدلو لپاره يی په شافعی مذهب کې هيڅ جواز نسته .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## موسیقی دامام ما لک ( رح ) دمذهب له انده

( المدونة الکبری ) چې دمالکی مذهب یومعتمد اوبنسټیز کتاب دی دامام مالک رحمة الله علیه نظردموسیقی په اړه په ښکاره ډکو کې څرګند کړی دی په نوموړی کتاب کې امام سحنون بن سعید دخپل استاذ عبدالرحمان بن قاسم عتقی څخه پوښتلی دی : ایا امام مالک رحمة الله علیه غناء روا بلله ؟ استاذ په جواب کې ورته لیکلی دی : امام مالک رحمة الله علیه دقران تلاوت لاپه ښکلی اواز مکروه ګڼی نو شعر ویل په غناء سره خو بیخی مکروه بولی ، همد اډول نوموړی کتاب زیاتوی : چې دامام مالک رحمة الله علیه په اند موسیقی هم مکروه ده لکه ډول رباب ، شپیلی اوداسی که څه هم دواده اوښادئ پرمهال وی .

المدونة الکبری ، باب فی اجارة دفاف والشعر والغناء جلد یوولسم

صفحه (۶۳ ) .

علامه محمد بن محمد دمالکیوو علماؤ نظر دموسیقی په اړه داسی بیانوی : په ښکلی اواز شعر ویل دموسیقی پرته جایز دی اودموسیقی سره مل مکروه دی نوموړی عالم زیاتوی : چې دمالکیوو دځینو علماؤ په آند حرام دی دلته که څه هم دمکروه لفظ ذکر سوی دی خو موخه ځینی حرمت دی ځکه کله ، کله دمکروه څخه حرام اراده کیږی .

مذاهب الجلیل ، جلد څلورم صفحه نهمه .

## موسیقی دحنبلی مذهب له اند ه

علامه ابن جوزی رح دحنابلو فقهاؤ نظردموسیقی په اړه داسی بیان کړی دی : دامام احمد بن حنبل رح علماء پدې اند دی چې دسندرغاړی اورقاص یعنی نڅا کونکی شاهدی نه قبلیږی .

تبلیس ابلیس صفحه ( ۳۰۰ )

دحنبلی مذهب مشهور عالم علامه علی بن سلمان مرادوی لیکی : شعر په ښکلی اواز اوریدل دموسیقی پرته بی ګټی کار دی اودموسیقی سره مل اوریدل حرام دی . الانصاف جلد دوولسم صفحه پنځمه .

ښاغلی مرادوی زیاتوی : چې صاحب دفروع ویلی دی : غناء مکروه ده مګر زیاتو علماؤحرامه بللی ده اوصاحب ترغیب ویلی دی : چې زیات علماء پردو هم قول باندی دی یعنی پردې باندی چې غناء حرامه ده .

الانصاف جلد دوولسم صفحه پنځمه .

نوکله چې یوازی غناء یعنی په ښکلی اواز شعر ویل حرام یامکروه سوه نودهغه شعر به څه حال وی چې موسیقی ورسره مل وی په هرصورت حاصل دادی چې موږ ولیدل چې دڅلورو ریښتینو مذهبونو کتابونو پرموسیقی باندی بندیز لګولی دی په هیڅ مذهب کې ورته دجواز لاره نسته نوکوم شی چې په څلورو مذهبوکی منعه وی اویوڅوک یی دجواز لاره لټوی زما په اند داسی لاری لټول تخریب دی الله جل جلاله دي ، دی اوموږ ټوله دتخریب څخه وساتی په ځانګړی توګه هغه تخریب چې په دین کې وی .

والله اعلم بالصواب

******

## دموسیقی اوریدونکی لپاره عذاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

دایوڅرګند حقیقت دی چي څوک دڅښتن تعالی جل جلاله اطاعت کوی الله جل جلاله اجر ورکوی اوڅوک چي معصیت کوی الله جل جلاله عذاب ورکوی چاته چي یي خوښه سی څوک چي موسیقی اوری درسول الله صلی الله علیه وسلم دښوونی پربنسټ ویلای سو چي الله جل جلاله عذاب ورکوی ترڅو توبه ونه باسی اوالله جل جلاله بخښنه ورته ونه کړی ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی : دابی هریره رضی الله عنه څخه روایت دی : چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی : دموسیقی اوریدل ګناه ده ورته کښیناستل فسق دی اوخوند پری اخستل کفردی .

رواه محمد بن اسحاق نیل الاوطار جلد اتم صفحه (۱۰۰)

په پورتنی حدیث کي چي دکفرلفظ راغلی دی موخه ځنی دنعمت ناشکری ده

درمختار جلد پنځم صفحه ( ۲۲۳ )

دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی چي یوه شپه درسول الله صلي الله علیه وسلم په غوږ کي دیوې سندری ږغ راغلی رسول الله ( صلی الله علیه ) وسلم دری ځلی وفرمایل : ددغه سندری ویونکی لمونځ نه قبلیږی ، ددغه سندری ویونکی لمونځ نه قبلیږی ، ددغه سندری ویونکی لمونځ نه قبلیږی .

نیل الاوطار جلد اتم صفحه ( ۱۰۰ )

دانس اوعائشي ( رضی الله عنهما ) څخه روایت دی : بیشکه نبی (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل : دوه اوازونه دی چی په دنیا اواخرت کي لعنت باندی دی : یودډول اوموسیقی ږغ دی چي دخوشحالی پرمهال وی اودوهم دویرکولو ږغ دی چي دغم پرمهال وی .

رواه بزاز وابن مردویه والبهیقی وذکره الکنز عن الضیاء ایضاً کنزالعمال جلد اوم صفحه ( ۳۳۲ )

دحضرت ابوامامة (رضی الله عنه ) څخه روایت دی : چي ده مبارك فرمایلی دی : کوم سړی چي دسندری اوازپورته کړی څښتن تعالی ( جل جلاله ) دوه شیطانان راواستوی دنوموړی سندرغاړی پراوږو کښینی اوپرځیګر یي پښی ترهغه وخته ښوروی ترڅودسندری ویلو څخه چوپ کیږی .

اخرجه ابن ابی الدنیا اوابن مردویه ، ورواه طبرانی باسانید ورجال وثقوا وضعفو ا . مجمع الزوائد ، جلد دریم صفحه ( ۱۳۰ )

عبدالله بن مسعود ( رضی الله عنه ) فرمایی : پرسندری ویونکی اوپرهغه چا چی سندری ورته ویل کیږی دالله ( جل جلاله ) لعنت دی .

اخرجه ابن ابی الدنیا والبهیقی فی شبعه .

محدث ضحاك فرمائی : سندری دمال تاوانول دی اوداالله ( جل جلاله ) ناراضی ده .

روح المعانی جلد : یوویشتم ، صفحه ( ۲۸ )

******

## ( رقص ( نڅا

الله ( جل جلاله ) دانسانی ژوند موخه عبادت ټاکلی دی څوك چي تراصلی هدف تیریږی اوپه ناوړه اوبېګټو کارونو اخته کیږی ښکاره خبره ده چي دالله (جل جلاله ) دټاکلی موخی څخه سرغړونه ده . کله چي به یوڅوك دالله ( جل جلاله )

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسرغړونی په صورت کې دالله ( جل جلاله ) رضا ( خوښی ) ترلاسه کړی ؟ نڅا هغه کړنه ده چې داسلام دپیل څخه تراوسه پوری چې کوم صحابه ، تابعین ، تبع تابعین ، محدثین ، مفسرین ، متفرقه علمأء اوټول صالحین کسان راغلی دی دهیچا څخه دغه ناوړه کړنه نه ده ثابته سوی اونه دیوه مذهب لخوا درواوالی اجازه ورکړل سوی ده په ځانګړی توګه په حنفی مذهب کې یې هیڅوک ثبوت نه سی وړاندی کولای چې دنڅا درواوالی اجازه یې ورکړی وی کوم څوک چې یې دجواز لاره لټوی په ښکاره دافغانی متدینی ټولنی چوپړ نه بلکی داټولنه یوه لوی انحراف ته هڅول دی که څه هم دنڅا دحرمت لپاره ډیر دلائل سته خودلته به درسالی دوړوکوالی له امله په بیلګی بسنه وکړو .

امام ربانی رح لیکی : دنڅا اوموسیقی دجواز لپار هیڅ فقیه وینا نه ده کړی اونه یې دجواز لاره دځینو صوفیانو په وینا پیداکیدلای سی .

المکتوبات ، جلد : لومړی دمکتوب شمیره : ( ۲۶۶ )

جواهر الفتاوی لیکی : رقص ( نڅا ) په قران اوحدیث کې حرام ښودل سوی دی څوك چې ناڅی(رقص کوی ) دکبیره ګناه کونکی دی اوورته فاسق اوفاجر ویل کیږی .

علامه جوزی لیکی : دسندری ویونکی اونڅاکونکی شاهدی نه قبلیږی .

تبلیس ابلیس صفحه ( ۳۰۰ )

والله اعلم بالصواب

کتبه : العبد الافقر الی عبد الهادی ( حما د ) \ ۱۵\۲ ۱۳۸۶\ هجری شمسی

ای خدایه ! کوچنی زوی عبدالمتین ( حماد ) ته می لوړ اوګټور علم ورنصیب کړی ای خدایه ! ته وینی چې کله په اخره شپه د کتاب کمپیوټری لیکنه بشپړی ده عبدالمتین جان دشپی تریوی بجی پوری داتو کالو په عمر ددینی مینی په موخه راسره ناست وواودخلاصیدو پرمهال یې دشکرویلو دعاکوله .

امین یارب العالمین

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**